Afghanistan Digital Library

adl0901

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf 

ad10901

# نظامنامه

(د)

## تقرر بدلون وظیفو ورکاوو د حکامو او علماقومو

په (۲۴) د (ثور) په سنه ۱۳۰۶ هجری شمسی

په مطبع کښې د "شرکت رفیق" په ماشینخانه

د "کابل" کښې چاپ شوی

(قیمت ۱/۲ (۳۶) پول)

شماره د چاپ ................ (۲۰۰۰)

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 3 of 48



بسم الله الرحمن الرحیم

# تعلیم د بیلوالی د کارو د حاکمانو د تولو د مامورینو د

## تمهید توتیه

پخوا له دی نه له پاره د اجراء کول د کارو د دولت او آسان والی د کارو د استیلونکو د افغانستان دا سی شان قانونونه او نظامنامی موجود نه وی چه سم له هغو سره تر او رفتار کیدلی - هر یو له مامورینو کاردارانو څخه په خواهش خپل او په اټکل سره پر یو طور چه همیشه به رعیت پریشان او کارونه د استیلاونکو

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 4 of 48



دَ وطن بر معطلّ او په خلل وه ، اجراء د خپلو متو قاعده
به ئی کوله چه کارونه دِ دولت به هیڅ کله په یوه
سره نه اجراء کیدلی ، زیاد اختلافونه به پیښیدل -
بلکه بعض کاردارانو به دبل کاردار په کار باندی منګلی
لږ ولی ، له دیر واله دکارنه به اصلی کارونه د دوی
بیرته پاتی کیدل - او ځینو به په سبب دِ نشت والی د
قاعدو د نظامنامی خپل کارونه به ئی مهمل او مجمل و بیکار
پریښودل او رعیت به په ځای د عرض او خلاصول د حاجتو
خپلو باندی نه پوهیدل مدام به در په در او سرګردانه

لپاره دِ لری کول او پوره کولو ددی پیچیدګی و ډیرو
او آسانول د کار د رعیت په هر شاخ دِ کارکښ تشکیلونه دِ
کاردارانو او روښانه بیانول د نظامنامو او د قانونو شول
چه هر یو د کاردارانو خپل کارونه سم له قاعدو د نظامیه
په اندازه دِ واك خپل سره وکړی او ځای د ورتلل د ګانو
د رعیت معلوم وی - مګر له بد پوهیدلو دِ بعضی کاردار

او نابلدی دِ خلقو تول کارونه سم له قانونو سره چه
ایښو دلی شوی دی په خپل ځای کښی نه کرزی وښه عمل
پری نه کیږی - او ډیر کارداران په هغه بخوانی عادت
او خوی خپل سره ترا وکار کوی - لکه چه نائب الحکومګان او
حاکمان په جزوی او کلّی کارو د ښاخ د حربیّه، خارجیّه،
عدلیّه، حسابیّه، کوتوالی، او دِ نورو ښاخو کښی وقتونه ښتنلی
او له خپلو ځیو کارو څخه بیرته، او نور کارداران هم بیکار
پاته کیږی - بنا په دا باندی کارونه د کارداړانو چه
دوی پوری تعلّق لری، او ځای د ورتلل د حاجتو د خلقو دِ
لاندی روښانه بیان او بیلیږی چه هر څوک په خپل ځای
پوه، او سم له نظامنامو د دولت سره اجراء د کارو خپل
وکړی :-

## عامی قاعدی

(۱) :- نائب الحکومګان او حاکمان اول کښی عرض او داد د [illegible]

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 6 of 48



اخلی، بعضی کارونه بی له سمولو له نظامنامو
قانونی سره په اتکل اجرا کوی، او ځنی حکم
د اجرایه نو مرد ادارو ورکوی، او ځای دودتلو
د هغه کار لکه شرعیه محکمی، دفتر،
کوتوالی او نورو دائروته له پاره د خلاصولو
لیږی. - په حقیقت کښ هغه چه ئخپله اجراء
کوی خلاف دی له نظامنامو نه او هغه چه پس له
ملاحظی نه حکمونه د اجراکولو د آئروته لیکی سبب
د نقصان د وخت د دوی او سرگردانی د خلقو دے.
پس له دی نائب الحکومگان او حاکمان پهبی په
هغه کارو چه تعلق تر دائرو پوری لری هیچ کله به
نقصان د وخت نه کوی! - تمام کارونه اول اوزمی
بی له حکمنامئی د نائب الحکومگان او د حاکمانو خپلو
دائروته ورزی! له هغه ځای نه سم له نظاموسره
د دولت اجرا کیږی. - او تر هغه پوری چه

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 7 of 48



خلق په ځای د کارو خپلواکښی بلل یږی. په نیت د ښود نه د لاړ او د ځای د دور نیل د هغه کار هر یو له نائب الحکومګان او حاکمانو نه یو لوستی سړی د بانکې له دباره د حکومتی شخه د مقرر کړی! څو هر غاته اداره د کار د هغه د روښنئی چه خلق هغی داېری ته ورذی او اجرا د کار خپل کوی.

(۲)، مستوفیان او اعلی سررښته داران او مأمورین د مالیئی او عدلیئی او کوتوالی او نورو سناخوته د دا پخوا له دی نه په هر جزوی کارکښی حکمنامه د نائب الحکومګان او د حاکمانو بدلئی غوښتله او خلق به لئی پریشان او سرگردان کول. په رښتیا سره قاعدی د نظامنامو د دولت په ښناخ د هر اداره کښی پوره سند او دستاوېزونه دی. په اجرا د کارو کښی برابر اینبود د قانونو سره هیڅ حاجت بیلی حکمنامی ته نشته پس له دی کارداران عرض او داد د خلقو په کارو کښی چه د دوی تر د انړے پوری

ترلی دی، پرمی بی له حکمنامی د نائب الحکومګانو اود
حاکمانو په بشر شان سره اوړی او اجرا د کار او د حاکمانو
د دوی سمله قانونو او له نظامنامو د دولت سره بی له
ځنډه او سرګردانی په اندازه یې واك خپل د وکړي!
او په هغه فقرو کښی چه د دوی تر واك شخه پورته دوی یا
په نظامنامو کښی د هغی فقری د پاره قاعده نوی جوړه
شوی په وقتو د کار خپل کښی به ئی حضور د نائب الحکومه
ته وړاندی کوی، پس له اجازی غوښتنی نه ئی اجرا کوے
که چیری کم کار د نائب الحکومه له اختیار و نه پورته
وی او له نورو قاعدو د نظامیه سره نه برابریږی، هغه
وزارت ته چه دا کار ورپوری تعلق لری په دستخط د
نائب الحکومه سره به ئی لیکی وروسته له اجازه غوښتلو
له وزارت نه به ئی کوی.

(۳):- که د کار دارانو له لوری په اجراکولو د کار د رعیت کښی
ځنډ او معطلی، او د دوی له وجی سببه سرګردانی پیښه

شی یا دوی سره خلاف له قاعدو د نظامنامو
د دولت نه کار او رفتار وشی - سم له (۴) قاعدې
سره رعیّت حق د عرض اود داد غوښتنه لری، او
په معلومه وقتو کښې د عرض د حال خپل و نائب
الحکومه ته وکړی، نائب الحکومه د سم له قانونی
نظامنامو سره بازخواست د بد رفتاوی د کاردارا[نو]
کوی ا

(۴): اوّله او دویمه قاعده د لپاره د معلومول د واك او اختیارا[تو]
او بیلول د کاورد[کاردارانو] جوړه شوی دی، او نه ویل کیږ[ي]
چه دا معلومول د اختیاراتو او بیلوالی د کارو، سبب
دي تعلّق د نائب الحکومه اود حاکمانو د ه له هغه کا[رو]
سره چه نورو کاردارانو پوری تعلّق لری- بلکه نائب
الحکومه په حقیقت کښې رئیس او سرکوده او آمر د ټولو
ادارو د یو ولایت دی چه کرد کاردارانو د ده ترنظر
لاندی خپل کارونه کوی ، او نائب الحکومه همیشه

دِ دوی سلوك، او رفتار ساتی، نګرانی او کتنډی
کوی- او اداره د شعبو تهلی شوی د ولایت او
اجراء د کارو به داسی کوی چه ورسته راشی:-
الف:- له پاره د اجرا د کارو او لیدلو د هغه نقرو چه
د ماموریتو له واك نه پورته وی، په هر هفته
یا دوه خوکښ په قرار دِ تقسیم د وقتو، نائب الحکومه
به وقت معلوموی، چه هر یو له مامورینو کاردارانو
څخه په همغه ورځ د کارخیل کښ نائب الحکومه ته
راحاضر شی، نائب الحکومه به په انداره د واك
خپل سم او برابر له نظامنامی سره کارونه اجراء
کوی- او که بعض مامورین لپاره دِ اجراء کولو د
کم ضروری کار بی له وقته د کارخیل نیډل د
نائب الحکومه وغواړی، پس له اجازی کارخپل
حضور د نائب الحکومه ته وړاندی کولای شی
ب:- نائب الحکومه به تل د مامورینو د اذوان په پیته

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 11 of 48



او ښکاره ساتنه او کتنه کوی - زیاد په دا
باندی په ورځو د هوی هفتی کښ یوه ورځ
ترمنځ چه هفته کښ دری ورځی شی په
ورځ کښ یو ساعت پس له دری بجی د
ماښپښین به هغه عرض او داد د رعیت
اوری، چه لږ تر لږه د ماموریینو او له اجراء هغو کار
چه په ضد د نظامنامو د دولت د باندی کیږی وی
او دوی غور رسی غواړی.

(۵):- نائب الحکومه او حاکمان به په وقتو د حاضری
کښ تل په کارو د دولت باندی مشغول وی -
په خصوص کارو د خپل ځان وقتونه تیره ولی
نه شی، او هیڅ یو له غتانو، معتبرینو څخه بعض
له پاره د لیدلو دوی په وقت د کار کولو حق
د ننوتو نه لری - هو هسکله که بعض غتان، مقرر
سړی خاص لیدل د نائب الحکومه او حاکمانو

غواړی، غیر له وخته دکار څخه دصبا له خوا یا
د ماښام څخه له خواشهای د دوی تو دوستی له اجازم
غوښتلو ملاقات او دیدن کولای سی زیاد
پر هغه باندی په هفته کښی یو ورځ یا
نیمه ورځ به ورځو د چارشنبه کښی لپاره د
ملاقات او مجلس د نائب الحکومه او حاکمانو
تعیین او معلومیږی - په ځای د حکومتی
کښی ملاقات او مجلس د هغو کیدلی شی - که چیری
یو له دعیتو ارد ضروری کار دی په کاغذ د ملاقات
(یو دوه کوتو کاغذ) کښی نوم او کیفیت د کار خپل د
ولیکی، او نائب الحکومه ته د وقت د کار کښی و استوی -
که نائب الحکومه لیدل د هغه مناسب او کاری
ضرور وکښی، خپل حضور ته ئی غواړی - او که نه
بل وقت کښی به وعده ورکړی په هغه وقت د
وعدی کښی ملاقات د نائب الحکومه پیدا کولی

# مخصوصې قاعدې د شعبې

## (د حربيه شعبه)

(۱):- چونکه دې ته په شعبه و شاخ د ننه ئي خدمتو
د حربيه کښ ځني نائب الحکومګان او حاکمان لاس
وهي او مداخلت به ئي کول - له دې جهته به
ځني د منصبداران د نظامي او حاکمانو جګړه او شوو
به واقع. پس له دې نه نائب الحکومه او حاکم به د
ننه خدمتو د نظامي کښ هيڅ حق د لاس وهلو
مداخلت نه لري - تومانداران او نظامي منصبداران
به د ننه ئي وظيفو د نظامي چه دوی پوري تعلق
لري، سم له نظامنامې سره د ننه ئي خدمتونه
برکار کوي.

(۲):- ځني له نظامي منصبدارانو په هسي کارو کښ به
مداخلت کول چه له نظامي وظيفي به وتلي وه لکه د.

فیصلې وخلاصي؛ او آخستل دحقو د نظامي او د ملکي
او باز خواست کول د "قباحت". پس لدې نه که
یوله نظامیانو څخه وتلې د نظامي وظیفو څخه بیلو نه چا
سره د حقوقو دعوې راوړله، یا ئې "قباحت"، یا "جنحه"،
یا "جنایت" وکړی، یا په خلاف د قاعدو د نظامنامو
د "پولیس" رفتار وکړی. تل سم له نظامنامې د "جزای
عمومي" تابع د ملکي محکمو او قانونو د پولیس دی!

(۳): څرنګه چه به معلومول د سرحد داوکلو نائب الحکومه او
د حاکمانو له خوا، او کله به د نظامي منصبدارانو له خوا کیدله او
څنګه همیشه به د نظامي منصبدارانو او د ملکي کاردارانو په منځ کښې
اختلافات پیښیدل. پس له دې معلومول د
سرحد دار د لوی قوماندان د نظامي له خوا کیږي.
تړل د کاو، بیړل او آخستل د خط، اجراآت
او کار و د ساتنې د سرحد، سیاسي خبر او
رپوټونه د سرحد، نائب الحکومه او حاکمانو

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 15 of 48



پوری تعلق لری. - هغه وقت چه بد رفتاری او
چپ له قانونه څخه کښ‌ران له سرحد دار څخه وليدل
شی، په موجب د رسید لو د خبر به ليکلو د نایب
الحکومه او حاکمانو، لښکری قوماندان به په
تلیوار د سرحد دار په بیل لایق مناسب سزی
سزه ور لری .

(٤) :- دغه لښکری منصبدارانو لپاره د حصول لو د
حقوق د رعیت - له جملی د لښکری سپاهیانو محصل
مقرره دل او د دا فقره چپه وه له قاعدی څخه، پس
له دی خلاصول د دعوو، حصول لو د حقوقو د
لښکری سپاهیانو پوری تعلق نه لری، تو دی پوری چه
خلاصول د دعوو او حاصلول د حقو د لښکری نفری
هم محکمو د عدلیه پوری تعلق لری، چه محکمو د
عدلیه تر بر و رزی، به زور اد قوة د عدلیه
سره به خپل حقوقته غواړی .

(٥):- لیاره د حاضره ول د غیرحاضرانو د لښکر به،
دِ نظامی منصبدارانو له خوا محصل مقرریدل
له محصلانو له خوا به قریه دار، همسایه، او قریبانو
د سپاهیانو ته ضرر او زحمت رسیده، دغه لپاره به
دی له خوا د قوماندانانو د لښکری قطعو، محلی
حاکمانو ته د خیر ورکاوه کیدی، او حاکمانو پورا
د قریه داران او علاقه دارانو نظامی غیرحاضرانو
د تولوی، او نظامی منصبدارانو د هغی علاقی ته
د سپاری- چه دا منصبداران ئې شای د لښکرو
قطعی د لښکری د دوی ته ورلیږی۔

(٦):- **هیڅوا له دی نه**، بیلوالی او تقسیم د کارو د ملکی
کار دارانو او د لښکری خلک متوته په نسبه شأن
سره نه وُه شوی، د پو خلک متوته چه له وظیفو
د لښکری شخه به نه وُه، د لښکری په غاړه
بُئې اینبودل- په دا وقت کښی چه ویشل د کارو

شوي دي، عمومي امنيت، ساتنه او محافظت
د ښهر، په غاره د قطعو د پوليس او د کوتوالي آسوده
شوي. - چه لښکري د ملکي په خدمتو تعلق نه کړي
که په يو وقت کښې قوت د قطعو د پوليس او د کوتوالي
ساتنه د ښهر او عمومي امنيت لره کافي او بسنده
نه شي. لپاره د پورته کولو د ننه خللو او د
دفع کولو د باندې حملو کومك د لښکري ضرور
ولويږي، سم له (۸۰) قاعدې د تشکيلات
اساسي نظامنامي په قرار د حکمنامه د نائب الحکومه
او اعلی حاکمانو لښکري قطعې، معاونت او کومك
د پوليس وکوتوالي، او دفع د دښمنانو او د معاندينو
يه کوي، او پس له لرې کولو د هغې پيښې په
حکم د نائب الحکومه او د حاکمانو به خپلو
قطعوته ورزي !

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 18 of 48



# د خارجه شعبه

ډیر کارونه د خارجه په واسطه د مکتوب نویسو
د نائب الحکومه اجراء کیدل، مامور د خارجه
چه په همدغه کار به مقرر وه، ورکار او خبره نا
پاتی کیده - پس له دی مکتوب نویس د نائب الحکومه
بالکل په خارجه کارو کښی، دخل او غرض نه شی
کولی - ټول کارونه د خارجه، په واسطه د
مامور خارجه، د نائب الحکومه تر حکم لاندی
اجرا کیږی - په دی تفصیل سره :-

(۱) :- ټول د لیکلو کارونه د خارجی شعبی، چه نائب
الحکومه ئی په اندازه د اختیارو خپل سره،
قونسلو او بهرته لیکی - یا له وزارت خارجه سره
مخابره او جواب وسوال کوی، وظیفه د مامور
خارجه دی.

(۲):- معلومول د وقت د ملاقات اولیده د قونسلو، او
د خارجه رسمی میلمنو پیدا کول د ضروریاتو د هغو،
په واسطه د مامور د خارجه سره کیږی .

(۳):- سرحدی معاملی چه له شعبه د خارجه څخه
پیښی شی - او نور خارجی معاملی ټولی په واسطه
د مامور د خارجه سره خلاصیږی .

(٤):- د خارجه مامور هیڅ کار بی له حکمه او قبلولو د
نائب الحکومه په مرکز او شهر کښی نه شی
اجراء کولی .

# دِ داخلیه شعبه

## اداره دِ نفوس:-

پخواه له دېښه دِ نفوس په کارکښې یوه دستره،
قاعده موجوده نه وه هیشه به بې له قانون او ترتیبه پنامم
دیچي، په قرار د حکمنامه د هر مامور حواله د نفوس کیدله-
اوکس په باب د کار د نفوس کښې یوه نظامنامه پیدا
شوی-چه هدایت او ښودنه د لیکلو د نفوس او اخستلو
د نفوس، اندازه او واك د مامورینو په هغې کښې روښانه
بیان شوی دی- او سم له هغې نظامنامې سره ځای د کاروو
د نفوس د هر ولایت، مدیریت د نفوس د هغه ولایت
دی چه مدیر د نفوس به په اندازه د اختیارو خپل سم له
نظامنامې سره اجرا د کارو خپل کوي- بر سېره په دا هم
مخابري چه مدیریت د نفوس عمومي ته ضرور شي په قبولولو

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 21 of 48



او د سخط د نائب الحکومه سره به اطلاع او خبر ورکوی

## (اداره د نقلیه)

**ځوا له دی** اداره د نقلیې د کمنډو د نظامی او د ملکې یوه اداره وه، چه مدام به د نظامی منصبدارانو او د ملکی کارداوانو په منځ کښ جګړه پیښېدله - **اوس** شعبه د نقلیه د نظامی څانته تر لښکری قوماندانو پوری متعلقه او تړله شوه - او شعبه د ملکیه بیله تر نائب الحکومګانو او حاکمانو پوری وتړله شوه!

کټه او باجبری د لښکری کمندو په واسطه د لښکری قوماندانانو، برابرول د خورا که او پیداکول د ضروریاتو د هغه له اداره د لوازمات حربیه څخه. کیږی او مامور د نقلیه د ملکی د نائب الحکومه او د حاکمانو تر نظر لاندی به خپله وظیفه په ځای او ځل مشغول کوی! سرښتنه و برابرول د خوراکه - او پوره کول د ضروریاتو د دوی په قبلولو د نائب الحکومه

او د حاکمانو په واسطه د مستوفیانو او اعلی سررشته دارانو سره کیدله شی - یعنی کتنه او باخبری د ملکی مال مواشی، نائب الحکومګان او حاکمانو پورې تعلق لری، او کار د حساب د هغه مستوفیانو او سررشته دارانو پورې تعلق لری!

-(اداره د معابو)-

څرنګه له دیشه د سرك کار او لار جوړول د پاره اداره پورې تړلی وه، اوس وزارت داخلیه پورې وتړله شوه - د ولایتو مامور د معابو، د نائب الحکومه تو کتنی لاندې انتظام او سررشته د سړکو او لجراء د کار، په اندازه د واك خپل سره کولای شی - بو سیده په دا بانډې له نائب الحکومه نه هدایت او سررشته اخلی.

# د عدلیهٔ شرعیه

(۱) — پخواله د پیښه نائب الحکومه او حاکمانو به ډیر کله
په کارو د عدلیه کښې به ئې چل وتتونه تیرول
آخر به ئې مُدّعی او مدعی علیه محکمو د
عدلیه ته لیږل - په دې صورت کښې د دوی
وقت نقصان، و بې ځایه تیریده، او خلق به پس
له سرګردانی څخه ځای د دعوی خپل ته ورتلل
پس له دې د خلق، لپاره د خلاصولو د دعوو
خپل، برابر د محکمو د عدلیه ته ورزی - او که
بعضې سړی په پخوانی خوی و عادة خپل سره
لپاره د عرض و داد د حقداری نائب الحکومګانو
او حاکمانو ته ورشی، یو کس لوستی د نائب الحکومګانو
او حاکمانو له خوا د باندی له دربار د حکومتي نه
مقرر دی چه دا نفریوته راهنمائی وکړي او محکمو

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 24 of 48



د عدلیې ته ئې ولیږی.

(۲):- پرخواله دی نه په شرعیه محکمو کښې تول کا (رونه) د دعوو محض تر یوی محکمې پوری تعلق دَرلود چه خلاصول دیوی نفری کار په سبب د نه فرصت ورو ویلږ، او په تیریدل د ډیر مدت سره نه کیده او رعیت به زیاد سرګردان وه - اوس د یوی محکمې جوړی شویدی - او کارونه د محکمو تقسیم شویدی لپاره د دی چه محکمې د عدلیې په تیلو (د) سره دعوی د رعیت خلاصی کړه او هر یو محکمو څخه سم له نظامنامې سره په اندازه د اختیار و خپل دعوی فیصله کړی.

وُقبی به له پاره د حاصلو د حقو د عدلیه محکمو څخه محصل مقرریده، پس له دی په عدلیه محکمو کښې خاص دعوی فیصله کیږی یعنی له محکمې نه بالکل په چا باندی محصل نه مقرریږی

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 25 of 48



حقوقی فیصلی چه په محکموکښې خلاصیږی مدعیته
سپارلی کیږی - که مدعی علیه تنده نه کوله او حق ئې
نه ورکولو - په نائب الحکومګیو او په حکومتوکښې چه
قوماندان دکوتوالی تر درجه د تولی مشره مقرر
دی مدعی به دغه قوماندان دکوتوالی ته ورځی
په واسطه دد وی سره به حقونه حاصلوی مجازات
د "جنحه" او "جنایت" پس له تمامیدو د فیصلی په واسطه
د قوماندانانو د کوتوالی سره اجراء کیږی
په هغه ځایوکښې چه قوماندان دکوتوالی له درجې
د تولی مشرنه ښکته وی - حاصلول د حقوا او
اجرا د مجازات په واسطه د حاکمانو سره
کیږی!

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 26 of 48



## شعبهٔ حسابیه

(١):- قراوسه چوری اکثره نفری- په واسطه د قوهٔ اجرائیه
او خاطرداری خپل اوّله بدئی نائب الحکومه او حکامانو
ته عرض کولو، په نامه د مستوفیانو او دفتریانو په
حسابي کارو کښی حکمنامه حاصلوله- پس له دی
هر کله چه لپاره د اجراد کارو قانوني تامله
شته- نائب الحکومه، او حاکمان اول په اول کښی په
حسابیه کارو وقت نه تیره وی او په عریضوه نفرو
د حسابیه د دعیت کښی به حکمنامه نه ورکوی
دعیت به لپاره د اجراکولو د حسابیه کارو خپلو کښی
بی له سر کره انی سم د لاسه هغه اداره ته ورزی چه
کارونی دی پوری تعلق لری. کاتبان، سرکاتبان، مامورین
مدیریان د هغه کار حسابیه کارونه چه دوی پوری
تعلق لری په انداره واک خپل چه معلوم دی سم

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 27 of 48



قاعدی سره به اجرا کوی ، او پورته قروانك ته په
صلاح او مشوره د مستوفی او سررشته دارانو چه
د دوی کار هغو پوری تعلق لری حسابیه کارونه به
اجرا کوی .

(۲) :- **پر جلب نامه** (تکس دغو بشتنه) د ماموریتو او د هغه
کسانو کښی چه په باره د خلاصولو د حسابیه دعوو غو بشتل
کیدل نائب الحکومه او حاکمانو به د ستخط کوله -
پس له دی په جلب نامه د شعبه د حسابیه کښی بواسطه
د ستخط د مستوفی او د سررشته دارانو کافی و
بسنده دی .

(۳) :- **پر مراقبو** د مصارف او تنخواه او په وسیله د خزانی او
گدام او تحویلخانو کښی ، مهر د نائب الحکومگانو او
حاکمانو کیده - هر کله چه علم د او ستل په صحیح
واله او غلطی د براتو ممکن نه وه ، پرته له دی چه د
ماموانو او د دفتریانو مهرونه بی کتل او

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 28 of 48



او مهره دلی به یئ ، هیڅ سنجش او تحقیق نشوی کولا
همیشه به دفترونه د حاکمانو په دغه بی فائدی کارتیر
برسیره په دا بانلی لپاره د معلومول د مصاوف
او تنخواه د تول مملکت د افغانستان "بودجه" یعنی
میزان د دخل او خرڅ جوړ شوی ده ، چه اندازه
د مصاوف د خرخوند او د معاشات و تنخاکان د هر
شاخ په هغه کښی معلوم او مشخص دی د دفتریان
قلم له منظوری د "بودجې" چه له "وزادة مالیبی" نه
دوی ته خبر ورکول کیږی حال د خرڅو او تحفانو
کوی - په براتو او رسیدو د خزانی او تحویلخانی
پس له دی نه مهر د نائب الحکومه او د حاکمانو
ضرور نه دی - یواځی مهر د مستوفی او د اعلی
سررشته دارانو د عمله د ستخط او ثبت دادارو
کافی سند دی .
حسابیه جواب وسوال چه له مرکز

د ولایتونه مامورینو سره کیدلی، نائب الحکومگیو
په اعتبار د دستخط د مستوفیانو امضا کوله همداسی
ونگه حسابیه مسئلی چه د حاکمانو او کاردارانو د
مالیئی اخوالیری کیدی په نامه د نائب الحکومگیو
سره به ئی لیږلی، هغو به پس له ملاحظی او کتلو
دفتري ته ئی سپارلی - پس له دینه جواب د
سوال او حسابیه خطونه چه له اداری د مستوفیانو
د ولایت څخه هغه محلاتو ته چه دغه ولایت پوری
تړلی دی، کیږی - په نامه د حاکمانو او کاردارانو
د مالیی لیکل، یواځی په دستخط د مستوفی سره
لیږل کیږی؛ محلی حاکمان به عیناً په سر سره
دغه مکتوب پس له ملاحظی نه دفتری یا کاردار د
د مالیی ته سپاری او په اجرا کولو د هغه کښی
به باعث او متوجه وی - هر څو مره حسابیه قضیی
چه محلاتو څخه هغه مرکز د نائب الحکومگی ته چه دا

څای تعلق ور پورې لری، لیږلی کیږی، مامور د
مالیې او حاکمان به ئې په اتفاق سره امضا او د مستخلفې
براخې په نامه د مستوفی سره به ئې لیکی او لیږی -
هغه جواب سوال او خطونه چه له ولایتونو مرکز د وزارتو لیږل کیږی
په دستخط د نائب الحکومه او مستوفی سره لیږل شی، د محرریت شاخې
شعبو کښې چه له وزارت د ولایتونو مخابره وجواب و سوال کیږی
په نامه د نائب الحکومه او د مستوفی لیکل کیږی -
نائب الحکومه پس له ملاحظې په سرسره د غه خط
لپاره د اجراء کولو مستوفی ته سپاری - جواب
وسوال د نورو شعبو او شاخو هم په دې صورت
سره اجراء کیږی !
(۵):- بعضې روزمره صارفیچه تخصیصات د "بودجې" په ضمن
سره کفایت و نکړی او ضرور شی - مستوفی په
اتفاق د نائب الحکومه سره وزارة مالیه او
وزارت د هغې شعبې ته د خبر ورکړی - پس له

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 31 of 48



منظوری د حضور څخه، له وزارهٔ مالیه او مربوطه وزارهٔ د هغې شعبې ته خبر ورکړل کیږي چه اجراٴ ئې کړي.

## شعبۀ عمومی معارف

**پخوا له** دینه اولیاو د طلبه پر ټول کارو د معارف کښ له
جزوی تر کلی پوری یا وزیر یا نائب الحکومه ته وړاندې
او حکمونه ددوی به نې په نامه دلانده نی کاردارانو عامل لو
مثلاً یو سړی به عرض کوه چه شاگوی د له یو مکتب نه بل
مکتب ته بدل شی - یا به ئې عرض کاوه چه غریب اود
بیکسه یم شاگوی د له مکتب نه معاف او خوشی سی یا به
له سلوك او روش د معلم یا مدیر د معلمانو په نسبت سوه
خوی د دی ته پخپله په حضور د وزیر یا نائب الحکومه
عرض کولو - بیا به د وزارت یا ولایت له خوانه حکم
د پلټنه او د تحقیق د داسی کارو په نامه د مکتب مدیر
او بعضی په نامه د سر معلم کیدل - په دی سو تو
کښ په ترتیب او تړلی شوی کارو د دائره د اختیارات
د مامورین د معارف کښ یو خلل او خرابی پیښیدله

برسیره په وابانندی په عمومی تعلیمو د طالبانو
کښې هم معطلّی راتلله - او په اجراءکولو د ضروری
کارو کښې چه کول ئې باید په تلوار سره وی ځنډ
او ډیل واقع کېدله .

پس له دی باید چه تمامی کارونه د معارف، مدیرانو
د معارف ته ورزی ، یعنی هغه کارونه چه مکتبو
د ښهر پوری تعلق ملیر د ښهرته اود (٦) کروهی
مدیر د (٦) کروهی ته - د غسی د نکه د هرشعبې
مدیر د هغی شعبی ته ورځی - مدیر د هغی شعبی تر
هری اندازی پوری چه اختیار لری ، پخپله به ئې اجرا
کوی - او تروالث پورته به ، په قرار د قاعدی
نائب الحکومه او حاکمانو ته عرض کوی او منظوری
به اخلی !

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 34 of 48



## شعبهٔ دِ تجارة

هَمیشه کار او وظیفه د کاردارانو دُکُمرُك، سمله
نظامنامی دُکمرك سَرَه ساتنه، او ترل د بندرو، او
آخستل د محصولو دی- په زیاتیدو او ترقی د سوداګری
کښې به سعی او کوشش کوی- او په هغه فقرو کښې چه
تړواك نه لی پورته وی، نائب الحکومه ته به وَرزی-۹
هغه فقرو کښې چه لایق د اطلاع او دِ رپوټ اوزده ه
کولو د سررشتی وی له مرکزنه په دستخط دِ
نائب الحکومه وزارت تجارت ته به خبر ورکوی،
سررشته او هدایت به آخلی

## دِ زراعت دائرهٔ

مدیر زراعت همیشه په پلیتنه او لوخول دکانو
اوکنودل د لویو لویو ویالو- اونوی ایښودل د ښکلو سعی

او کوشش کوی - وسیلې د ترقی د کښت و کړنې، کاردارانو
د سرکاری محکو او د دهقانانو ته ورښیی - لوغول او لتهه دل
دکانو، کنودل د ویالو او نوی ایښودل د ښخکلو به په اجازه
د نائب الحکومه او د حاکمانو سره کوی او هغه مبلغ چه په
بودجه کښې ور له تعیین او معلوم شوی په اجازه د نائب
الحکومه او د حاکمانو به ئې شیندی - علاوه پر هغه
باندی که نور څه مبلغ لپاره د هغه کارو لازم او ضرور
ولید شی په دستخط د نائب الحکومه خپل وزارت ته خبر
ورکوی او منظوری به حاصلوی!

* * *

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 36 of 48



## شعبهٔ د کوتوالي

(۱):- څوک چه لدینه مجازات د قباحتو حاکمانو ته کلي په خواهش خپل اجرا کول پس له دی په نائب الحکومګیو او حکومتیو کښی قوماندان د کوتوالی چه له غند مشره ترکنډک مشره پوری مقرر دی، فیصله د مجازات د قباحتن به کوی - او په هغه حکومتیو کښی چه قوماندان د کوتوالی ترټولی مشره پوری مقرر دی، تحقیقات د قباحتو به قوماندان د کوتوالی کوی حکم د مجازات به حاکم ورکوی - او په هغه ځایو کښی چه ښکته له درجې د ټولی مشره منصبدار د کوتوالی موجود وی تحقیقات د مجازات د قباحت کونکی په واسطه د علاقه دار په مصلحت او مشوره د مجلس د علاقه دارے سره اجراء کیږی

(۲):- په نائب الحکومګیو او حکومتیو کښی قوماندان د کوتوالی

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 37 of 48



چه له غند مشر ته تر تولي مشره پوري دي ابتدائي تحقيقات د "جنحه" او د "جنايت" به کوي - به علاقه دارو او به هغه حکومتيو کښ چه منصب او د کوتوالي بشکته له تولي مشره پوري دي د ابتدائي تحقيقات به حاکمان او علاقه داران کوي، نتيجه د تحقيقات به سم له تا علاقه د نظامنامي د عدليه محکمو ته سپاري چه په دغو محکمو کښي به قرار د نظامنامي او ايښودلي قاعدي خلاص او پاکي شي.

(۳):- هغه کارونه چه کوتوالي کښ تحقيق لاندي داخل، نائب الحکومه او اعلی حاکمان په هغه وقت د تحقيق کښ په سينه شان سره نګراني او حاصل د معلوماتو کولای شي - او بعض مهمه او لوئي فقري، چه امنيت د ملک له سبب د خلل وي - دوي بدئي په خپله يه واسطه د کوتوالي سره خپلي نګراني لاندي تحقيقات کوي.

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 38 of 48



(٤):- تنخواه له دینه لپاره د حاصلولو د حقونو خاص
د نائب الحکومه له خوا محصل مقرریږی او خپل تنخواه
بدلی په فیصله کولو د حقوقیه دعووکښی تیره ول -
پس له دی څخه په هغه نائب الحکومکیو او حکومتیو
کښی چه قوماندان د کوتوالی له غند مشر ته تر
"پولیشر" پوری مقوروی. لپاره د حاصلولو د حقوقو چه
مدعی عرض وکړی په موجب د فیصلو د علیه
محکمو، په واسطه د کوتوالیو سره محصل مقرریږی - او
په هغه ځایو کښی چه منصبداران د کوتوالی ښکته
تر تولی مشرانو څخه وی - حاکمان او علاقه داران
به سم له شرعی فیصلی سره تحصیل د حقوقو کړی

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 39 of 48



## شوریٰ د دولت

د نائب الحکومګیو او د حاکمانو اعضاء د مجلس د مشوری سم له اساسی نظامنامې سره - هغه فقری چې په نظر سره د خیر او د اصلاح د حال د رعیت نفع او بهبودی د کارو د دولت ، مناسب د رپوټ او د اطلاع وکړی ، نائب الحکومه او حاکمانو ته به خبر ورکوی ، نائب الحکومه او یا حاکمان که دا فقری د دوی تر واک لاندی وی ، او اجرا کول د هغو واجب ګڼړی - هره فقره به ادارې د هغې فقری ته سپاری او حکمنامه د اجرا کولو به ورکوی - او که د دوی له اختیارونه پاس وی د هغې فقری وزارت ته به رپوټ او خبر ورکوی - پس له اجازه غوښتلو د مرکزنه به ئې اجراء کوی .

+ +

+

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 40 of 48



# پسته

وَظِيفَهَ اوکار دِ کاردارانو د پوستې او دِ
تيليفون ، د نائب الحکومه ترحکم لاندې
هميشه د دول د تيليفون او رسول د پوستې
دی-په صورت د غفلت و بيخبری او سُستی
د دوی کښې نائب الحکومه به بازخواست
د غفلت او دِ سُستی د دوی کوی-اجراء
کول د پوسته رسانی په صورت دِ عُمدَهَ
برآری سَرَهَ ددول اوجوړه ول د نوی تيليفون
او تلغراف که ضرور شی نائب الحکومه به ئی
په اندازه دِ واک خپل سره په واسطه
د مأمور د پوستې او تيليفون اجراء کوی-
او پاس له واک نه به وزارت داخِلَيَهِ ته ليکې-
پس له اجازه غوښتلو د مرکز څخه به ئی اجراء کوی!

# ادارهٔ طبيّه

مأمورين د طبيّه سَمُ له هغه قاعدو سره
چه نظامنامه د اساسي تشکيلات کښې روښانه
بيان شوي دي ، مقرري کاروته خپل به کوي ، نائب
الحکومه او حاکمان به هميشه باخبري او نگراني
د کار و د دوی کوي - چه دوا د مرضو او علاج
د نورو علتو په شان سره وشي - اوله بلي خوا
پاکي او صفائي د کوڅو او بندول د سببو د هغو
مرضو چه له يوه نه بل ته ورځي په قرار د تصويب
او قبلولو د طبيّه مأمورينو په واسطه د مامورينو د
کوتوالي سره کيږي - هغه تدبيرونه چه مأمور
د طبيّه ئي لپاره د دفع د متعدّي مرضو نائب الحکومه
ته وړاندي کړي ، نائب الحکومه په هر شاني
چه وي په دغه کښې به معاونت او مطابقت کوي .

## (مکتوب نویسان د نائب الحکومګیو او حاکمانو)

نائب الحکومګان او حاکمانو به مخوالد دی نه بعضی تفتیشیه فقری چه تر نورو ادارو پورې ئې تعلق درلوده په واسطه د خپلو مکتوب نویسانو سره کولی پس له دینه د حکومتیو مکتوب نویسان پرته له هغو فقرو نه چه د مل ترتیب د مکتوب په نظامنامه کښ د دوی له وظیفو شمیرلی شوی دی، هغه فقرو کښ چه نورو دائرو پورې تعلق لری دخل او غرض کولی نه شي.

هغه قاعدې چه په دې نظامنامه کښ په نسبت سره وظیفو ته د نائب الحکومه او د مامورینو، او ګرزول د کارو د دائرو ترلی شوی د یو ولایت، جوړ شوی او روښانه بیان شوی دی - بخپله همغه قاعدې په اعلی حکومتیو کښ هم برابرېږی، او عمل پرې کېږی.

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 43 of 48



په اجرا کولو د حکمو د پاس قاعدو کښې نائب الحکومه او حاکمان او متعلقه مامورین د هغو مکلف دی !

* * *

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 44 of 48



# ضمیمه د تعلیمو دینیو لو رکارو ورکو ما موریتو

مادهٔ

(۱) هغه کسان چه په قرار د فیصلی او حجت چه
شرعی سند کیدی شی، طلب د حق په ذمه
د استیدُنکو د بل ولایت لری، او حاکم
د دی ځای ته عرض وکړی - دا حاکمان
د هغو حاکمانو ته چه مدعی علیه هغه ځای
کښ استوګنه لری په خصوص د حاصلولو
د حق د عارضانو کښ خبر ورکړی چه په
قرار د سند حق د عرض کونکو حاصل کړی
او دوی له ئی واسته وی ․

(۲):۔ هغه ښځی چه له نه رسیدلو د نفقی له طرفه
خپلو خاوندانو خپل چه په علاقه د بلی حکومتی کښ
وی - حاکمانو د خپل علاقی ته عرض وکړی -
حاکمان د علاقی په باب د حاصلولو د نفقی

http://hdl.handle.net/2333.1/c866t2xf Image 45 of 48



د دوی کښی پخپله ښودو حاکمانو سره
کاغذ او خط باندی سوال و جواب کولای
شی ۰ (۲۸) جوزا سنه ۱۳۰۲